
مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۳۹۹ د سلواغې ۱٤مه | د ۲۰۲۱ د فبروري دویمه | ٦۷٤یمه ګڼه


څېره

٤ مخ

## ګونتر ویلهېلم



ګونتر ګراس الماني نقاش، مجسمه جوړونکی، د نوبل جایزې ګټونکی او د دغه بنسټ په خبره، په المان کې تر ټولو اغېز لرونکی لیکوال دی.

# د موقت حکومت طرحې ته تونده غبرګون؛

## امرالله صالح: د سیمې استخباراتو د نفاق او بلې خونړۍ جګړې طرحه جوړه کړې




۳

### پر کابل کې د جمهوریت ماتېدونکې لیکه

۲ مخ


### د اروپا پارلمان؛ دندې، جوړښت او صلاحیتونه

۲ مخ

### د چین د کمونیست ګوند د واکمنۍ افکار

۳ مخ

## جاپان له افغانستان سره په بشري او پراختیايي برخو کې ۱۲۲ میلیونه ډالر مرسته کوي



په کابل کې د جاپان سفارت د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي، چې له افغانستان سره په بېلابېلو برخو کې ۱۲۲ میلیونه ډالره مرسته کوي.

په خبرپاڼه کې راغلي چې دا پیسې به په بشري او پراختیايي برخو کې ولګول شي. د خبرپاڼې له مخې، دا پیسې به د ۱۷ پروژو له لارې د بېلو بنسټونو له خوا په اړوندو برخو کې مصرف شي.

د جاپان سفارت ویلي چې افغانستان د تېر کال له وروستیو څخه تر اوسه پورې د کرونا وبا په ګډون د جګړو او طبیعي پېښو له امله سخت زیانمن شوی او دوی له ځپل شویو افغانانو سره په اړوندو برخو کې هر راز همکاریو ته ژمن دي. په کابل کې د جاپان سفیر تاکاشي اوکادا زیاته کړې، چې د مرستو د دوام لپاره تر ټولو مهم اصل شفافیت دی او دوی هیله لري چې افغان دولت له فساد سره پیل کړې مبارزه لا پیاوړې کړي.

## سویډن: ښکېلې غاړې دې د جګړې پر ځای سولې ته لومړیتوب ورکړي

د سویډن لومړي وزیر شل استیفان لوون په افغانستان کې د روانې جګړې پر پای ته رسېدو او سراسري اوربند ټینګار کړی دی.

له ارګه په خپرې شوې خبرپاڼه کې راغلي، چې ولسمشر غني د سویډن له لومړي وزیر سره ټیلیفوني خبرې کړې دي. په خبرپاڼه کې راغلي، چې په دې ټیلیفوني خبرو کې د سویډن لومړي وزیر په پراختیايي او اقتصادي برخو کې د خپل هېواد د همکاریو او همداراز له افغان امنیتي او دفاعي ځواکونو څخه د ملاتړ د دوام ډاډ ورکړی دی.

هغه زیاته کړې، چې په افغانستان کې د اوربند ټینګښت او د جګړې او وینې بهېدو پای ته رسېدل د دوی لومړیتوب دی. هغه ویلي چې سویډن د سولې له هغې پروسې ملاتړ کوي، چې د تېرو دوو لسیزو لاسته راوړنې پکې خوندي او د مستقل، ډیموکراتیک او متحد افغانستان لامل شي. نوموړي دغه راز پر ښکېلو لورو غږ کړی چې ژر تر ژره دې روانه جګړه پای ته ورسوي او د سولې خبرو له لارې دې په خپلو کې هوکړې ته ورسېږي.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې د یوځل بیا د سولې بین الافغاني خبرې د نامالومو دلایلو له کبله له ځنډ سره مخ شوې، خو جګړې ورځ تر بلې د ډېرېدو په حال کې دي. پرون هم په کابل کې د مقناطیسي ماینونو دوې چاودنې وشوې چې څو کسانو ته په مرګ ژوبله واوښته.

## طالبان: که امریکا په ټاکلي وخت خپل ځواکونه ونه وباسي، پر وړاندې به یې اقدام وکړو



٥ مخ

## وزارت صحت‌عامه: شمار جان باخته‌گان ویروس کرونا در کشور به ۲هزار و ٤۰٥ تن رسید



وزارت صحت‌عامه، از ثبت ٦۲ رویداد تازۀ مثبت ویروس کرونا در سراسر کشور خبر داده‌است. بر بنیاد معلومات این وزارت، در یک شبانه‌روز گذشته، ۲هزار و ۰۲٥ نمونۀ مشکوک ویرس کرونا آزمایش شده‌اند.


وزارت صحت می‌گوید که در ۲٤ ساعت گذشته یک تن در نتیجۀ این بیماری جان باخته‌اند و ٤٤ تن دیگر، بهبود یافته‌اند. با ثبت رویدادهای تازه، آمار کلی ویروس کرونا در کشور به ٥٥ هزار و ۱۲۱ تن رسید.

رویدادهای مثبت ویروس کرونا در یک شبانه‌روز گذشته در ولایت‌های ننگرهار غور (۱۳)، ننگرهار (۱۲)، کاپیسا (۱۰)، کابل (۱)، تخار (٦)، کندز (۱)، نیمروز (۱)، بدخشان (۱)، بادغیس (٤)، لغمان (۲)، کنر (٦) و سرپل (٥)، ثبت شده‌اند.

شمار جان باخته‌گان در نتیجۀ ویروس کرونا در کشور به ۲هزار و ٤۰٥ تن و شمار بهبودیافته‌گان به ٤۷هزار و ۷۲۳ تن رسیده‌است. بیش از ۱۰۳ میلیون فرد به این بیماری در سراسر جهان مبتلا شده‌اند و بیش از دو میلیون دیگر، جان باخته‌اند.

این در حالیست که در این اواخر رویداد های ویروس کرونا در کشور رو به افزایش است و وزارت صحت عامه به مردم هشدار می دهد اگر موارد صحی را رعایت نکند آمار این ویروس در کشور دیگر نیز گسترش خواهند یافت.


Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a Book to Your Life



دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

## سرلیکنه

### په کابل کې د جمهوریت ماتېدونکې لیکه

د طالبانو او امریکا ترمنځ لـه هوکړې وروسته اوس ډېری کسان یقیني دي چې بین الافغاني خبرې به حتمي بریالۍ کېږي او په پایله کې بـه یې د راتلونکي نظام ډول هم د اوس په شان نـه وي. د راتلونکي نظام په تړاو لـه بحث سره هممهالـه دا مطرح کېږي چې جمهوریت باید وساتل شي او امارت د منلو وړ نـه دی. کـه څه هـم طالبانو ویلي چې دوی امارت غواړي، خـو دا ورتـه سره کرښـه نـه ده. پـه کابـل کـې بیـا حکومتـي چارواکي پـه تکرار سره وایـي چـې جمهوریت ورتـه سره کرښـه ده. لـه هغـه وروسـته چـې د موقت حکومت بحث مطرح شـوی، پـه کابل کـې یې هـم ډېر سیاسـتوال ملاتـړي شـوي او د ولسـي جرګې د رییـس لـه ملاتړ وروسـته پـرون پـه جرګـه کـې سخت بحثونـه را پورتـه شـول او جرګـه پـه دوو برخـو ووېشـل شـوه.

ایـا جمهوریت سـاتل کېږي او کـه بـه یې ځای یـو بـل نظام تـه پرېښـودل کېږي؟

پـه سـوله کـې او بیـا د طالبانـو پـه شـان لـه قـوي ځـواک سره پـه سـوله کـې حتمـي ده چـې د نظام په تـړاو بـه بحث کېږي او هغسـې بدلونونـه بـه پکـې راوسـتل کېږي چې طالبان یـې هـم منلـو تـه قانـع شي. څـه ډول چـې پـه کابـل کـې د امـارت مخالفـت کېـږي، دغسـې طالبـان د جمهوریت مخالفـت کـوي، نـو ځکه پـه یـوه دریېم حل توافق کېدلـی شي چې هغه اسـلامي دولـت یادیـږي.

هغـوی چـې غـواړي جمهوریـت دوام وکـړي، دوه ډولـه خلـک دي. یـو هغـه کسـان دي چـې فکر کـوي جمهوریت غوره نظام دی او د افغانسـتان لپـاره مناسـب دی. دوی فکر کـوي چـې پـه دې نظام کـې د ټولو ګټـې او ارزښـتونه خونديي دي، خـو دا کسـان ډېـر کـم دي او غـړ یـې هـم ټیټ دی. دویمـه ډلـه هغـه دي چـې جمهوریـت د خپـل واک د دوام، د شـخصي ګټـو د خوندیتوب او لـه سـولې سره د مخالفـت لپـاره غـواړي. دا ډلـه ډېـره ښـکاره ده او اوس پـه واک کـې ده. دوی ځکـه جمهوریت د خپلو ګټو لپاره غواړي، چـې پـه واقعـي مانا یې خپلـه جمهوریت نه دی عمـلي کـړی، بلکـې هـر ګام یـې د جمهوریت پـر ضد دی. د اوسـني ولسـمشر او ملګرو کړنې یـې د جمهوریـت خـلاف دي او هـر کار چـې کـوي، پـه واقعیـت کـې د جمهوریـت پـر مـرۍ پښـه ږدي.

هغـه جمهوریت چـې متفـاوت سیاسـي لـوري یـې د طالبانـو پـر وړانـدې پـه یـوه ادرس را ټول کـړي وو، اوس ماتېدونکـی دی. اوس پـه کابـل کـې سیاسـتوال، د ولسـي جرګـې رییـس، د جمهوریـت د مذاکـراتي ټیم ځینـي غـړي او نور مهـم کسـان د موقـت حکومـت پلویـان دي. ان د اشرف غنـي د واک پنځـوس سـلنه شریـک ډاکـټر عبداللـه هـم موقـت حکومـت یـوه لاره ګڼـي. د جمهوریـت لیکـه ځکـه ماتېدونکې ده چـې بدیـل یـې امریـکا وړانـدې کـوي؛ د موقت حکومـت وروسـتۍ طرحـه خلیلـزاد وړانـدې کـړې، نـو ځکـه یـې ملاتـړي هـم پیـدا کـړي او کـه خلیلـزاد د جمهوریـت بـل هـر ډول بدیـل وړانـدې کـړي، هـم بـه ملاتړي پیدا کـړي او هم بـه یـې د عمـلي کېـدو چانـس کـم وي.

د امریـکا غوښـتنه او خپلـه پـه کابـل کـې د چارواکـو لـه خـوا د جمهوریـت پـر مـرۍ پښـه ایښـودل د دې سـبب شـوي چـې د جمهوریت لیکـه لـه ماتېـدو سره مـخ شي او ورځ تـر بلې به یـې ملاتـړي تـرې اوړي. اوس د دې پـر ځـای چـې پـر جمهوریـت ټینـګار وشي، ښـه ده چـې پـر یـوه دریېمـه لاره فکـر او کار وشي چـې هـم زمـوږ نظـام او ارزښـتونه وسـاتل شي او هـم لـه سـولې سره مرسـته وکـړي.

# د اروپا پارلمان؛ دندې، جوړښت او صلاحیتونه

ژباړه: امین پاچا

د اروپـا پارلمـان چې پـه ۱۹۷۹ کال کې تاسـیس شـوی دی؛ د برېټانیـا لـه وتلـو وروسـته دا مهـال د اروپايي ټولنـې د ۲۷ غـړو هېوادونـو اسـتازي د دغـه پارلمـان غړيتـوب لـري. دغـه تقنینـي ارګان د قانـون جوړونـې یو رسـمي نهـاد دی چې لـه اروپایـي ټولنـې سره پـه ګـډه د قانون جوړونـې او د ځینـو مهمـو تصامیمـو د نیولـو په برخه کـې کار کوي. دا چې دغه سـتر تقنیني ارګان پـه اروپايي ټولنه کې د ډیموکراسـۍ تر ټولو لوی سمبول دی؛ اسـتازي یې په مسـتقیمه توګه د اروپايي ټولنـې د غـړو هېوادونو د وګړو له لوري د رایـو پـه اکثریت سره ټـاکل کېږي.

د اروپـا د کمېسـیون مشر او غـړي لـه پارلمان څخـه د بـاور رایـه اخلي او پارلمان کولی شي د دوی له کړنو نظارت او همدارنګـه د یـاد کمېسـیون غـړي پـه ټولیزه توګه اسـتیضاح او سلب صلاحیت کـړي. د اروپـا پارلمـان د اروپایـي ټولنـې د کلنـۍ بودیجـې پـه اړه تصمیـم نیسـي او د بودیجـې لـه لګښـت څخه پـه جدي توګـه نظـارت کـوي. د دغـه سـتر تقنیني ارګان د غـړو شـمېر ۷۵۱ تنـه دی، خـو دا چـې ۲۰۲۰ کال برېټانیـا له ۴۷ کلونو غړیتوب وروسـته لـه اروپايي ټولنې ووتله، نـو د پارلمـان د غـړو شـمېر یـې ۷۰۵ تنو تـه را ټیټ شـو.

دغـه پارلمـان تـه د لارمونـدلو لپـاره تـر دې دمـه د اروپایـي ټولنـې د غـړو هېوادونـو لـه لـوري نهـه ځلـه ټاکنـې شـوې، چـې لومـړی ځـل ټاکنـې یې پـه ۱۹۷۹ کال کـې د هغـه مهـال د غـړو هېوادونـو لـه لـوري تـر سره شـوې دي. وروسـتی ځـل (نهـم ځـل) ټاکنـې یـې د تېـر ۲۰۱۹ کال د مـې میاشـتې پـه ۲۳مـه پیـل او ۲۶مـه پای ته ورسـېدې. د برېټانیـا پـه ګـډون د اروپایـي ټولنـې ۲۸غـړو هېوادونو چـې د رایې ورکوونکو شـمېر یـې ۵۱۲ میلیونـه تـه رسـېده، برخـه واخیسـته چـې پـه تـرڅ کـې یـې ۷۵۱ تنـه د نـړۍ لـه ګـوټ ګـوټ څخـه یـاد پارلمـان تـه بریـالي شـول.

**غړي هېوادونه**

د اروپـا د پارلمـان غړي د اروپایـي ټولنې د ۲۷ غـړو هېوادونـو د وګـړو لـه لـوري د ازادو، سراسري او شـفافو رایـو پـر اسـاس پـه مسـتقیمه توګـه د پنځـو کلونـو لپـاره ټـاکل کېـږي؛ دغـه هېوادونه عبـارت دي لـه :

فرانسـې، جرمني، ایټالیا، بلجیم، هالېنډ او لوګزامبـرګ پـه ۱۹۸۵ کال کـې د اتحادیـې غړیتـوب تـر لاسـه کـړ؛ برېټانیا (چـې اوسـمهال لـه اروپایـي ټولنـې وتلـې)، ډنمارک او آیرلنـډ په ۱۹۷۲ کال؛ یونـان پـه ۱۹۸۱ کال، پرتګال او اسـپانیا پـه ۱۹۸٦ کال؛ اسـټرالیا، فنلېنـډ او سـویډن پـه ۱۹۹۵ کال؛ د چېـک جمهوریت، قبرص، ایسـټونیا، هنګري، لیتویا، لیتوانیا، مالټا او پولېنډ هېوادونو پـه ۲۰۰۳ کال؛ بلغاریـا او رومانیـا پـه ۲۰۰۷ کال او کروشـیا پـه ۲۰۱۳ کال کـې د اروپایـي ټولنـې چـې د اروپـا د پارلمـان د غـړو پـه ټاکلـو کـې مهـم رول لـري، غړیتـوب تـر لاسـه کـړی دی.

**کلنۍ بودیجه**

د اروپـا پارلمـان لـه اروپایـي ټولنـې سره پـه مشـوره خپلـه کلنـۍ بودیجه ترتیبوي. د بودیجـې د چمتـووالي پروسـیجر یـې پـه نورمالـه توګـه د هـر کال پـه فـبروري میاشـت کـې پیلېـږي. د اروپـا پارلمـان د اروپـایي ټولنـې یـو پـر پنځمه برخـه بودیجـه چـې ۱.۲ سـلنه کېـږي، تشـکیلوي. د یـاد پارلمـان بودیجـه اکثراً د غـړو هېوادونـو لـه لـوري پـه مسـتقیمه توګـه مصرفېـږي.

**د بودیجې د ترتیب لارې چارې**

څرنګـه چـې یادونـه وشـوه د اروپـا د پارلمـان کلنـۍ بودیجـې د چمتـووالي چـارې په فبروری میاشـت کـې پیلېږي. د پارلمـان مـشر د یـوه وړاندیـز پـه تـرڅ کـې د راتلونکـي کال لومړیتوبونـه او لګښـتونه مشـخصوي. ورپسـې د اتحادیـې مـشر او د هغـه ۱۴ مرسـتیالان د لومړنـي تصویـب پـه موخـه د مـالي چـارو یـوه مسـلکي کمېټـه رامنځتـه او یـاده کمېټـه د بودیجـې د چمتـووالي چـارې پـر مـخ وړي.

د کمېټـې لـه غـړو یـو تـن د بودیجـې له بهیـر او پـه دې اړه له اړوندو جلسـو څخه د ریـوټ د چمتـووالي دنده پـر غاړه لري؛ دغـه راپـور د پارلمـان کاري لومړیتوبونـو تـه پـه کتـو چمتـو او د پارلمـان د کلنیـو لګښـتونو وړاندوینـه کـوي. ټـاکل شـوي کمېټـه د بودیجـې لـه بهیر څخه د چمتو شـوي راپـور پـه اړونـد رای اچونـه کوي او ورپسـې د اروپـا د پارلمـان ټـول غـړي د یـوې جلسـې پـه تـرڅ کـې چې معمـولاً د مـې میاشـتې پـه اوږدو کـې دایرېږي، د بودیجـې لـه بهیـر څخـه د چمتـو شـوي راپـور پـه اړه رای اچونـه کـوي. وروسـته یـاد راپـور چـې د پارلمان کلنـۍ بودیجه پکـې ځـای پـر ځـای شـوې، د اروپایـي ټولنـې لـه کلنـۍ بودیجـې سره یـو ځای د یـوه بودیجوي سـند پـه توګـه د تصویب پـه موخـه د ډسـمبر میاشـتې پـه اوږدو کـې د یـادې ټولنـې لـه لـوري تصویب او د اروپـا د پارلمـان لـه لـوري توشـیح کېږي.

**اداري جوړښت**

رییـس؛ د اروپـا پارلمان بېلابېلې اداري برخـې لـري چـې د ټولـو پـه رأس کـې عمومـي رییـس قـرار لري. رییـس د یوې تقنینـي دورې د نیمایـي مودې په موخه چـې دوه نیـم کاله کېږي، ټـاکل کېږي. د پارلمـان مشر د اروپایـي ټولنې له ټولو غـړو هېوادونـو او اتحادیـو سره د اړیکـو د جوړولـو مسـوول دی. رییـس د پارلمـان او نهادونـو پـر جلسـو او کارکړنـو سربېره د کورنیـو دنـدو د اصولـو پـر تطبیـق هـم د نظـارت دنـده پـر غـاړه لـري. د اروپایي ټولنـې د هـرې جلسـې پـه پیـل کـې د پارلمـان رییـس، د پارلمـان لیدلـوری او د اړونـدو چـارو پـه برخـه کـې خپلـې اندېښـنې پـه ډاګـه کـوي.

کلـه چې اروپايي ټولنـه بودیجه تصویب کـړي، د پارلمـان مـشر د بودیجـې سـند لاسـلیک (توشـیح) کـوي چـې لـه دې وروسـته بودیجـه عمـلي ګټـل کېـږي. د اروپایـي ټولنـې او د اروپـا د پارلمان مـشران ټـول هغه قانـوني اقدامات چې قانـوني مراحـل یـې طـی کـړي وي، لاسـلیک کـوي.

غـړي؛ څرنګه چې وړاندې مـو هم یادونه کـړې وه، د برېټانیا له وتلو وروسـته د یاد پارلمـان د غـړو شـمېر ۷۰۵ تنـو تـه را ټیټ شـو او دغه کسـان د اروپايي ټولنې د ۲۷ غـړو هېوادونـو د سراسري ټاکنـو پـه تـرڅ کـې د یـوې تقنینـي دورې چې پنځـه کالـه کېـږي، ټاکل شـوي دي.

د جنسـیت پـه پـام کـې نیولـو سره هـر هېـواد د خپـل نفـوس پـه کچـه د دغـه پارلمـان غړیتـوب تـر لاسـه کـوي او شـاوخوا یـو پـر دریـو برخـه یـې ښـځینه غـړي تشـکیلوي. د اروپا د پارلمان غړي د غـړو هېوادونـو لـه لـوري د سیاسي او مسـلکي پوهې پر اسـاس انتخابېږي، نه د قـوم پـر اسـاس.

سیاسـي احـزاب؛ د اروپـا د پارلمـان غـړي په سـیاسي ډلو وېشـل شـوي دي، دغـه ډلـې د قـوم پـر اسـاس نـه، بلکـې د سیاسـي پیوسـتون پـر اسـاس رامنځتـه شـوي دي. دا مهـال د اروپـا پـه پارلمـان کـې اووه سیاسـي ډلـې فعالیـت کـوي چـې عبـارت دي لـه:

۱. د اروپا د خلکو حزب
۲. د سوسیالېسـتانو او ډیموکراټانـو مخکښ حزب
۳. د اروپا نوی حزب
٤. زرغـون حـزب یـا د اروپـا خپلـواک اتحـاد
۵. د پېژندنې او ډیموکراسۍ حزب
٦. د محافظه کارانو او اصلاح غوښتونکو حزب
۷. د چپیانو کنفدرال حزب

د یـوې سیاسـي ډلـې یا حزب د تشـکیل پـه پـار ۲۵ غـړو تـه اړتیـا ده او لـږ تـر لږه یـو پـر ځلـور د غـړو هېوادونـو اسـتازي بایـد د حزب غړیتـوب ولـري. هېڅ غړی نـشي کولـی لـه یوې سیاسـي ډلـې پرته پـه نـورو سیاسـي ډلـو کـې هـم غړیتوب تـر لاسـه کـړي. ځینـې غـړي بیا پـه هېڅ حـزب پـورې نـه دي تـړلي چـې د خپلواکو او ناپیوسـته غـړو پـه نـوم یادېږي.

د هـر حـزب پـه رأس کـې یـو تـن د رییـس پـه توګـه ټـاکل کېـږي. احـزاب دارالانشـاوې لـري چـې اداري چـارې پـر مـخ وړي. د احزابـو مـشران د غـړو سیاسـي پیوسـتون او پوهـې تـه پـه کتـو د هغـوی دفترونـه او د ناسـتې ځایونـه مشـخصوي.

پـه عمومـي ناسـتو کـې لـه رای اچونـې وړانـدې، د سیاسـي احزابـو غـړي د پارلمـان د کمېټـو هغـه راپورونـه چـې د اړونـدې موضـوع پـه اړه یـې چمتـو کـړي، اوري او د اصلاح پـه پـار یې خپل نظریـات شریکـوي. هېڅـوک هېـڅ غړی نـشي مجبورولـی چـې د دوی پـه خوښـه خپلـه رایـه وکاروي.

**پارلماني کمېټې**

د لومړنیـو کارونـو د ترسراوي پـه موخـه ۲۰ دایمـي او تخصصـي کمېټـې تشـکیل شـوې چـې د پارلمـان غـړي د یـادو کمېټـو غړیتـوب لـري. هـره کمېټه لـه ۲۵ تـر ۸۱ کسـانو پـورې غـړي لـري چـې پـه رأس کـې یـې یـو تـن د رییس پـه توګـه قـرار لـري او د هـرې کمېټـې لپـاره دارالانشـاء رامنځته شـوې ده. دغه کمېټـې د عمومـي اسـمبلۍ د ترکیـب منعکـس کوونکـې هـم دي.

پارلمـاني کمېټـې د میاشـتې یـو یـا دوه ځلـه خپلـې جلسـې (مناظـرې) پـه بروکسـل ښـار کـې دایـروي. دغـه مناظـرې پـه عامـه توګـه دایرېـږي. کمېټـې خپلـې قانـوني طرحـې او ابتـکاري راپورونـه تنظیـم، اصـلاح او تصویبـوي؛ همدارنګـه د شـورا او د اروپـا د کمېسـیون وړاندیزونـه څېړي او د اړتیـا پـه صـورت کـې راپورونـه چمتـو او عمومـي ناسـتې تـه یـې وړانـدې کـوي. پارلمـان کولـی شي د ځانګـړو موضوعاتـو د څېړنـې پـه موخـه لنډمهاله او فرعـي کمېټـې رامنځتـه او یـادې کمېټـې صلاحیـت لـري چـې د مؤثـرې څېړنـې پـه موخه دایمـي کمېټـې هم تر خپـل نظـارت لانـدې ونیسـي.

**پارلماني پلاوي**

پارلمـاني پـلاوي هـم د پارلمـان لـه غـړو تشـکیل شـوي دي چې د اروپایي ټولنې لـه غـړو هېوادونو پرته د نـورو هېوادونو له پارلمانونـو، سیمې او سـازمانونو سره د اړیکـو د جوړولو مسـوولیت پر غـاړه لري. پارلمـاني پـلاوي د پارلمـان د کمېټـو او غـړو پـه مرسـته د اروپایي ټولنـې له پولو ور هاخوا د بشري حقونو او ډیموکراسـۍ ملاتـړ کـوي او د اروپـا د پارلمـان دریـځ روښـانه کـوي.

د منظمـې مباحثـې او پارلمـاني ډیپلوماسـۍ له لارې، پلاوي په ټوله کې د اروپایـي ټولنـې لپـاره تبلیـغ او شریک هېوادونـه د اروپایـي ټولنـې ارزښـتونو او ګټـو تـه د ملاتـړ پـه پار هڅـوي. پارلماني پـلاوي بېلابېـل ډولونـه لـري چـې د بین الپارلمـاني کمېټـو پـلاوي، څـو اړخیـزه پارلمـاني پلاوي او له هېوادونـو او احزابو سره د اړیکـو جوړولـو پلاوي پکـې شـامل دي.

**سیاسي بنسټونه**

د اروپـا پارلمـان بېلابېـل سیاسـي بنسـټونه لـري چـې د قانـون جوړونـې، سـوداګریزو پروګرامونـو، مـالي او اداري چـارو د سـازماندهۍ مسـوولیت پـر غـاړه لري. سیاسـي بنسـټونه د اروپایي ټولنې لـه نـورو بنسـټونو، مـلي پارلمانونـو او د اروپایـي ټولنې له هېوادونـو پرته، له نورو هېوادونـو سره د اړیکو جوړول، د اروپایي ټولنې او د پارلمان د مشر د کنفرانسـونو تنظیمـول او ورتـه نـورې چـارې پـر مـخ وړي.

**پارلماني ګروپونه**

سره لـه دې چـې د اروپـا پارلمـان بېلابېلـې ډلـې لـري، خـو هېـره دې نـه وي چـې دغـه پارلمـان ځینـې داخلي پارلمـاني ګروپونـه هـم لـري چـې پـه غیر رسـمي توګه پـه ځینو ځانګـړو موضوعاتو کـې دخیل دي. دغه ګروپونه د پارلمان، مـدني ټولنـو، سیاسـي احزابـو او کمېټـو لـه غـړو څخـه تشـکیل شـوي دي. د پارلمـان کورني ګروپونـه د دې لپاره چې د پارلمـاني احزابـو او کمېټو په چارو کې مداخلـه ونـه کـړي، پـه ځینـو حالاتو کې حتـی د پارلمـان لـه موقـف څخـه دریـځ هـم نـشي غـوره کولـی.

دغـه ګروپونـه د پارلمـان د کورنیو اصولو، چـې د ۱۹۹۹ کال د ډسـمبر میاشـتې پـه ۱٦مـه د اروپایـي ټولنـې او پارلمـان د مشرانـو لـه لـوري تصویـب شـوی، تابع دي. د کورنیـو اصولـو قانـون د ۲۰۱۴ کال د سـپټمبر پـه ۱۱مـه تعدیـل شـوی دی.

د اروپـا د پارلمـان مشر تېـر ۲۰۱۹ کال د سـپټمبر میاشـتې پـه ۱۱مـه د یـوې تقنینـي دورې لپـاره د لاندنیـو داخـلي ګروپونـو لیسـت تصویـب کـړ، چـې پـه لانـدې توګـه یـې د ځینـو مهمـو یادونـه کوو:

۱. د فساد پر وړاندې د مبارزې ګروپ؛
۲. د قـوم پالنـې پـر وړانـدې د مبـارزې ګـروپ؛
۳. د ماشومانو د حقونو ګروپ؛
٤. د بېوزلـۍ پـر وړانـدې د مبـارزې ګـروپ؛
۵. د مذهبونو د خپلواکۍ ګروپ؛
٦. د سوداګریزو اتحادیو ګروپ؛
۷. د ژوو د ساتلو د ملاتړ ګروپ؛
۸. د ټولنیز اقتصاد د ودې ګروپ؛



# د چین د کمونیست ګوند د واکمنۍ افکار

لیکنه: وانګ یو؛ په افغانستان کې د چین لوی سفیر

که غواړی چین وپیژنی، نو ښه به وي چې تر هر څه لومړی د چین کمونیست ګوند په اړه پوره مالومات ولری.

د چین کمونیست ګوند له چینایانو سره نه جلاکېدونکې اړیکې لري او په هیواد کې یې ژورې ریښې غځولې دي. د دغه ګوند د غړیو شمېر د ۲۰۱۹ کال تر پایه پورې ۹۱ میلیونه او ۹ سوه ۱۴ زره حساب شوی او د نړۍ تر ټولو لوی ګوند بلل کېږي.

د چین کمونېست ګوند د هیواد واکمن ګوند دی او په چینایي ټولنه کې یې د یوې لویې ونې په څېر جرړې غځولې او څانګې یې قوي او پاڼې یې تازه او رپاندې دي. د دغه ګوند غړي د چین په بېلابېلو برخو کې متحرک او مثالي رول لوبوي او د ژوند په ټولو برخو کې فعال قوت لري او د ګوند د مرکزي کمیټې په مشرۍ د خلکو د نیکمرغۍ او د هېواد د پرمختګ لپاره هلې ځلې کوي. د دغه ګوند ډېری غړي عام خلک دي او د خلکو په مینځ کې اوسي او عادي ژوند او چارې پر مخ وړي. کله چې د چین وګړي له ناورینونو، ستونزو او سختو شېبو سره لاس او ګرېوان وي، نو د چین کمونېست ګوند خپلو غړو ته لارښوونه کوي، چې په لومړۍ کرښه کې د خپلو خلکو خدمت وکړي. د ۲۰۲۰ کال په پیل کې د کرونا وبا ناڅاپي را پورته شوه او د نړۍ ډېر هیوادونه او نړیوال اقتصاد یې له ستونزو سره مخ کړي دي. د چین د کمونېست ګوند ۳۹ میلیونو او یو سلو ۴۴ زرو غړو د خپل هیواد دننه د دې وبا پر وړاندې مبارزه پیل کړه او له ډېرو ستونزو سره سره یې د خپلو خلکو ژوند وژغوره او د دوی د ساتلو لپاره یې ټینګ لوی دیوال جوړ کړ. د دوی د هڅو او زیار په برکت، چین په نړۍ کې یو له هغو غوره هیوادونو څخه دی، چې دغه وبا یې ښه کنټرول کړې ده. چین د ډسمبر په ۳مه اعلان وکړ چې له ټاکل شوي مهالویش سره سم یې د غربت کمولو موخه بشپړه کړې ده. د چین د کمونېست ګوند سلګونو زرو لومړیو سکرترانو او د کلیوالو سیمو څو میلیونو مرستندویه کدرونو د اتو کلونو پر لهٔپسې هڅو په رڼا کې د کلیوالو سیمو ټول بې وزله خلک له بې وزلۍ څخه وباسل او د دوی د زیارونو او هڅو په رڼا کې د ټولو بې وزلو ولسوالیو خلکو د بې وزلۍ خولۍ له سره لرې کړې.

په چین کې نږدې سلو میلیونو بې وزله خلکو له فقر او بې وزلۍ سره مخه ښه کړې او دا د لیدو وړ بریالیتوب دی او د دې ښکارندویي کوي، چې چین د ملګرو ملتونو د ۲۰۳۰ کال د دوامداره پرمختګ اجنډا موخه لس کاله دمخه پوره کړې ده.

د چین د کمونېست ګوند رهبري د تاریخ انتخاب او د خلکو انتخاب دی او چینایان یې کلک ملاتړ او پلوي کوي. د چین کمونېست ګوند په ۱۹۲۱ کال کې تاسیس شوی او د دغه ګوند د مشرۍ په رڼا کې چین سمسور شوی او چینایانو خپله خپلواکي، سمسورتیا اوغښتلیتوب ګټلي، پخوانۍ کمزورتیا یې بدله شوې او پوره نیکمرغي یې موندلې ده. د نړۍ د ځینو مشهورو ارګانونو د خپلواکو ټولپوښتنو له مخې، د چین له کمونېست ګوند او د چین له حکومت څخه د چینایانو ملاتړ په نړۍ کې لومړی مقام نیولی او توازن یې له ۹۰ سلنې څخه هم لوړ دی. د چین د کمونېست ګوند د مشرتابه د پیاوړو لارښوونو په اثر چینایانو د کرونا وبا پر وړاندې روانې مبارزې کې ستراتیژیک بری تر لاسه کړی او د چین پر کمونېست ګوند او حکومت د باور، رضایت او ملاتړ کچه یې د تاریخ لوړې کچې ته رسېدلې ده.

د چین کمونېست ګوند د نړۍ له مختلفو سیاسي ګوندونو سره فعالې اړیکې ټینګې کړې او له ډېرو هیوادونو سره یې د سالمو او مستحکمو اړیکو، د نړۍ د سولې ساتلو، د اقتصادي پراختیا او د بشر د پرمختګ لپاره خدمتونه کړي او کوي یې.

د چین کمونېست ګوند په ایډیالوژیو او ټولنیزو سیستمونو کې توپیرونو ته پاملرنه کوي او څلور اساسي اصول «خپلواکي، بشپړه برابري، متقابل درناوی او د یو بل په کورنیو چارو کې نه لاسوهنه» تعقیبوي او د بېلابېلو هیوادونو ګوندونو خپلواک حیثیت او د خپل ټولنیز سیستم او انکشافي لارې د غوره کولو حق ته درناوی لري. چین په دې اند دی چې ټول ګوندونه له یو بل سره مساوي چلند وکړي، هیڅ ګوند باید پر نورو ګوندونو خپل نظریات او عملونه تحمیل نه کړي او هر ګوند باید د هېواد او ګوند د واقعي شرایطو او تجربو له مخې د بل ګوند غوره شویو کورنیو او بهرنیو سیاستونو ته درناوی وکړي. د هر ګوند داخلي چارې باید د ګوند دننه حل شي او بهرني سیاسي ګوند ته باید هیڅ اجازه ورنه کړل شي، چې پکې مداخله وکړي او نه هم باید د ګوندي اړیکو له لارې د نورو هیوادونو په کورنیو چارو کې مداخله وشي.

د چین کمونېست ګوند د بشریت د سولې او عدالت د راوستلو لپاره پر انټرنېشنالېزم ټینګار کوي. په نړیوالیزم یا انټرنېشنالېزم کې ټول ګډ برخلیک او ګډ پرمختګ مومي او ټول ګډه ساه اخلي. د چین کمونېست ګوند د افغانستان په ګډون د نړۍ د څه پاسه ۱۶۰هیوادونو او سیمو له ۶۰۰ ګوندونو او سیاسي سازمانونو سره بېلابېلې اړیکې، نظر تبادلې او همکارۍ تر سره کوي. د افغانستان د لویو ګوندونو په ګډون، د نړۍ څه د پاسه سلو ګوندونو د تېر ۲۰۲۰ کال د جولای په لومړۍ د چین د کمونېست ګوند د تاسیس د ۹۹ یمې کلیزې په مناسبت دغه ګوند ته پیغامونه ولیږل او په تېرو ۹۹ کالونو کې یې د چین د کمونېست ګوند پرمختګ او د چین سترې لاسته راوړنې ستایلې دي او ټولو ګوندونو باور ښودلی، چې د چین د کمونېست ګوند په مشرۍ دغه هیواد ژمن دی، چې د روښانه راتلونکې په لور وخوځېږي او د انساني ټولنې پرمختګ لپاره نوي او لا ډېر خدمتونه وکړي. سږ کال به د چین د کمونیست ګوند د تاسیس سلمه کلیزه ولمانځل شي. د چین کمونېست ګوند د چیني ملت زرګونو کالونو خدمت او لویو چارو ته ژمن دی او سل کالونه یې یوازې د ځوانۍ ورځې تېرې شوې دي. د بې ساري ساري ناروغۍ له امله په نړۍ کې د لویو بدلونونو تحول د ګړندي کېدو په حال کې دی او د چین کمونېست ګوند به د نړۍ د سولې، ګډ پرمختګ او د نړۍ د اداري د بشپړتیا لپاره نوي لورې، نوي پلانونه او نوي غوره والي وړاندې کړي.

د چین د کمونېست ګوند د مرکزي کمیټې عمومي منشي او د دولت رییس شي جین پینګ ویلي، د چین کمونېست ګوند لوی ګوند دی، نو باید د عظمت څرګندویي وکړي.

د چین کمونېست ګوند د چینایانو د خوښۍ په لټه کې دی، د چیني ملت د احیا په لټه کې دی او د بشریت د سولې او پرمختګ په لټه کې دی. د چین کمونېست ګوند تل د نړیوالې سولې لپاره خدمت کړی او کوي یې. چین د کمونېست ګوند په مشرۍ زورواکي نه غواړي او نورو هېوادونو ته به هم لاس ونه غځوي. د چین کمونېست ګوند د نړۍ د ګډ پرمختګ لپاره تلپاتې خدمت کوي، دغه ګوند نه یوازې د چینایانو، بلکې د نړیوالو لپاره هم نیکمرغي لټوي. د چین کمونېست ګوند تل د نړۍ د تمدنونو تبادلې او متقابلو زده کړو لپاره خدمت کوي او په پراخې سینې او ښه نظر د نړۍ بېلابېلو تمدنونو ته ګوري. دغه ګوند د خلکو کلتوري تبادلې او دوستانه ملکي تګ راتګ څخه کلک ملاتړ کوي او غواړي د نړۍ د ټولو هیوادونو خلکو او سیاسي ګوندونو سره ډیالوګ او همکارۍ ولري.

چین او افغانستان دوستانه او نږدې ګاونډیان او له اوږدې مودې راهیسې ښې اړیکې پالي او تر اوسه یې یو پر بل یرغل نه دی کړی. دواړو هیوادونو د نیک ګاونډیتوب ښه دود ساتلی او د دوه اړخیزو اړیکو دوامدار پرمختګ پرمخ بیایي. د چین کمونېست ګوند، حکومت او چینایان غواړي، چې د افغانستان له مختلفو سیاسي ګوندونو سره د نظرتبادلې پیاوړې کړي، څو د چین او افغانستان خپلمنځي اړیکې، ملګرتیا او همکارۍ پیاوړې او تلپاتې شي او دواړه هیوادونه ګډ پرمختګ وکړي. چین هیله لري چې په افغانستان کې سوله او ثبات ژر رامنځته شي او د بشر د ګډ برخلیک ټولنه په ګډه اباده کړي.

# د ابلیس طرحه که د خطر زنګ!؟

## امرالله صالح: د سیمې استخباراتو د نفاق او بلې خونړۍ جګړې طرحه جوړه کړې




په وروستیو کې په ټولنیزو او نورو چاپي او انځوریزو رسنیو کې د یوه موقت یا د سولې او مشارکت په نامه د حکومت د طرحې خبره کېږي. د ولسي جرګې رییس او اوس تازه په تازه د ولسمشر لومړي مرستیال امرالله صالح پر دې طرحه غبرګون ښودلی دی. پر داسې یوه مسئله د لومړي مرستیال غبرګون په دې مانا دی چې د افغانستان په سیاسي ډګر کې د پردې تر شا ځینې پېښې روانې دي، خو د ولس له سترګو پټې ساتل کېږي. د ولسمشر لومړی مرستیال د دې طرحې جزیاتو ته ځیر شوی او په دې باور دی چې دا د سیمې د استخباراتو یوه شیطاني او د نفاق طرحه ده.

له کومې ورځې چې په دوحه کې بین الافغاني خبرې پیل شوې، ورسره جوخت د ځینو سیاسیونو له لوري د موقت یا سرپرست حکومت د جوړېدو ګنګوسې هم خپرېږي او دوی په دې باور دي چې یوازې موقت حکومت افغانستان ته سوله راوستلی شي.

له دې سره جوخت څو ورځې وړاندې د طالبانو د پلاوي یوه غړي په مسکو کې یوه خبري کنفرانس ته وویل چې دوی ژر تر ژره د ولسمشر غني لرې کېدل غواړي او په وینا یې، که ولسمشر له خپلې دندې استعفا ورکړي، نو دوی به هم اوربند وکړي او د سولې خبرو ته به ادامه ورکړي.

سره له دې چې په دوحه کې د سولې خبرې له ځنډ سره مخ شوي، په افغانستان کې د موقت حکومت یا د سولې مشارکتي حکومت په نامه پر یوه طرحه نانداری روانې دي. د ولسمشر لومړي مرستیال امرالله صالح پر خپله رسمي فیسبوکپاڼه لیکلي، چې له نامعلومو او ناپېژندل شوو سرچینو په افغانستان کې د موقت حکومت د جوړېدو یا د سولې مشارکتي حکومت د جوړېدو تر نامه لاندې طرحه خپره شوې چې په حقیقت کې د ابلیس طرحه ده او د ترهګرو لپاره د لابۍ او ذهنیت جوړونې هڅه ده. د ده په خبره: «په دې ورځو کې د ټولنې د وګړو ترمنځ له نامعلومو او ناپېژندل شوو ادرسونو یوه لیکنه لاس په لاس کېږي، چې د مشارکتي حکومت یا د سولې حکومت نوم یې ورباندې اېښي دی. له دې طرحې ترهګرو ته د لابي ګرۍ بوی راځي، دې خبرې په اصطلاح ډېر خلک هیجاني کړي دي، دا د افغانستان د کمزوري کولو او نفاق رامنځ ته کولو ورهاخوا بل هېڅ هم نه دي».

صالح همدا راز د خپلو خبرو په دوام ویلي، چې دا د سیمې د استخباراتو داسې دسیسه ده، چې غواړي د افغانستان جنوب ختیځې برخې د پاکستان او د دوی تر ملاتړ لاندې ترهګرو ډلو لپاره امن مرکزونه وي او د هېواد شمالي سیمې په خپلو کې په جګړو سره بوختې کړي. د ده په وینا، د سیمې استخباراتي ډلو په منظمه توګه داسې طرحه جوړه کړې، چې ګواکې طالبان به په افغانستان کې د پښتنو استازیتوب کوي او د پښتنو ټول امتیازات به د دوی وي. همدا راز یې زیاته کړې، چې د سیمې استخبارات غواړي افغانستان یو کمزوری او بې صلاحیته حکومت ولري چې پر هېڅ او هېڅ لوري د کنټرول او حکم چلونې وړتیا و نه لري. امرالله صالح هیله څرګنده کړې چې د افغانستان خلک د تل په څېر د پردیو په تېره د سیمې د استخباراتو د دغو دسیسو پر وړاندې ودرېږي او له خپل هېواد دفاع وکړي. د ده په خبره: «زه باوري یم چې د افغانستان خلک به د تل لپاره د خپلې خاورې د ساتنې لپاره دا استخباراتي نسخه باطله کړي. د افغانستان اسلامي جمهوریت د اساسي قانون پر بنسټ جوړ شوی او ساتنه به یې کوي. دا طرحه د داخلي امنیت پر وړاندې له ګواښ هاوخوا بل هېڅ ارزښت نه لري».

له دغو طرحو او بحثونو داسې مهال نانداری جوړېږي، چې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ روان مذکرات تر دې دمه کومه هیله مندي له ځان سره نه لري. افغان ولسمشر په خپلو پرونیو څرګندونو کې یو ځل بیا ټینګار کړی چې طالبان د سولې غوښتونکي نه دي او د جګړو د دوام او ناوتریخوالي سبب دي. بلخوا طالبانو بیا پرون په یوه خپره کړې اعلامیه کې ویلي، چې دوی ناوتریخوالی نه دی ډېر کړی او په دې تړاو د اروپایي ټولنې او څو نورو هېوادونو خپرې شوې څرګندونې بې بنسټه دي.

# راپورونه: د میانمار پوځ د کودتاه له لارې ټول مشران نیولي او واک یې په خپل لاس کې اخیستی

د راپورونو له مخې، د میانمار پوځ د دغه هېواد ټول دولتي مشران بندیان کړي او واک یې په خپل لاس کې اخیستی دی.

دغه اقدام د ملګرو ملتونو غبرګون پارولی دی.

د دغه سازمان سرمنشي انتونیو ګوترېش په یوه اعلامیه کې ویلي، چې په میانمار کې د دولت د منشي یا برحالې مشرې انګ سون سوچي، د ولسمشر وین مینت او ځینو نورو سیاسي مشرانو نیول غندي. ګوترېش زیاته کړې، چې دا اقدام په میانمار کې پر ډیموکراټیکو اصلاحاتو یو سخت ګوزار دی.

د ګوترېش په وینا، د ملګرو ملتونو په اعلامیه کې زیاته شوې، چې د انګ سان سوچي په مشرۍ د ډیموکراسۍ لپاره ملي لیګ حاکم ګوند په انتخاباتو کې اکثریت ګټلی او پوځي مشرتابه باید د خلکو دې ارادې ته درناوی وکړي او د ډیموکراتیکو ارزښتونو منلو ته غاړه کېږدي. په ورته مهال د میانمار پوځ اعلان کړی، چې په دغه هېواد کې د یوه کال لپاره بېړنی حالت غوره شوی او د حکومت ټول واک مین انګ هلېنګ ته سپارل شوی دی.

د پوځ اړوند یوه ټلوېزیون ویلي: «بېړنی حالت په ټول هېواد کې د اجرا وړ دی. د دولتي بېړني حالت موده د یوه کال لپاره ټاکل شوې. د رایې ورکوونکو د لېستونو د ارزونې، د قانون جوړونې، حکومتولۍ او د قضایه قوې د چارو د مخته وړلو لپاره واک لوی درستیز مین انګ هلېنګ ته سپارل شوی دی.»

سره له دې چې د پوځ یوه مشر ته ټول اجرایي واک سپارل شوی، خو د پوځ اړوند ټلوېزیون همداراز مینټ سوي د سرپرست ولسمشر په توګه اعلان کړی دی. په میانمار کې ولسمشر د خلکو لهٔخوا نه، بلکې د پارلماني ډلې، لومړي وزیر او پوځي مشرانو په خوښه ټاکل کېږي او واک تر ډېره له دولتي منشي یا لومړي وزیر سره وي.

بلخوا د جرمني خبري اژانس ډي پي اې د انګ سان سوچي د ګوند تازه څرګندونې اخیستي، چې د خپلې مشرې انګ سان سوچي په حواله یې خپرې کړې دي. سوچي پر دې سربېره چې په بند کې ده، ویلي یې دي چې پوځ د کووېډ-۱۹ له امله منځته راغلې وضعیت په پام کې ونه نیوه او په لوی لاس هېواد بېرته پوځي دیکتاتورۍ ته ورګرځوي. هغې په خپلو پلویانو غږ کړی چې د پوځ د دې اقدام پر وړاندې ودرېږي.


د امریکا، استرالیا او یو شمېر نورو هېوادونو چارواکو ویلي چې په میانمار کې پر کودتا او د ملکي حکومت د مشرې پر نیولو سخت اندېښمن شوي دي. دا کودتا وروسته له هغې وشوه چې وروستیو ورځو کې د ملکي حکومت او پوځ ترمنځ د ټاکنو د شفافیت په اړه نانداری زیاتې شوې. د نومبر میاشتې په ټاکنو کې د سوچي ګوند په پراخ ډول بریالی شو، خو پوځ وایي په ټاکنو کې درغلۍ شوې دي.

## د کتـــاب خبـرې

# د جاسوسی پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددورانی او ادېتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### څلورمه برخه
**کابوکي**




خو د تکړه خلکو اصلي ستونزه دا وي چې دوی یوازې وي او شیانو ته له لرې ګوري. د «جاسوسانو میراث» په نوم کتاب کې همدغسې یوه خبره لیکل شوې ده، د «اړواو» یوه ستونزه دا وي چې پر باور پانګونه نه‌شي کولای.
دغه جګپوړي چارواکي د باور نه کولو له ستونزې سره مخ دي. اجیت داسې یو څوک دی چې پر چا هم باور نه‌شي کولای. زموږ په دنده کې تقریباً په ټولو قضیو کې باور کول سخت دي. مطلب دا یوازې د ده مشکل نه دی. د هندوستان د استخباراتو نور جګپوړي چارواکي هم دغسې یوازې وي.
سېنها: په هندي رسنیو کې د پاکستان د ملي امنیت سلاکار «جنرال جنجوعه» په تړاو هغسې خبرې نه اورېدل کېږي، لکه په پاکستاني رسنیو کې چې د هند د ملي امنیت سلاکار «اجیت ډوال» په تړاو کېږي.
دورانی: کله کله خو چې رسنۍ یو څوک تر برید لاندې ونیسي، نو هغه کس ته د تاوان پر ځای ګټه کوي. ده پالیسي بدله کړې نه ده. ما په دغو ناستو کې له ده سره یو دوه ځلي کتلي دي. ډېر په غرور غړېده، ځکه خو زه دې پایلې ته ورسېدم چې سړي باور پیدا کړی دی. ما ته پته نه وه چې دی به لا د مودي د ملي امنیت سلاکار کېږي. بله دا چې ده له ما د ملي امنیت د سلاکار غوندې پوښتنې کولې.
که په لنډو یې ووایم نو دی هغه څه کوي چې رئیس یې ورته وایي. ښایي هم په ډېر ښه شکل سره خپله دنده ترسره کوي.
سېنها: تاسو وویل چې ښاغلی دولت عملي تجربه لري. د ملي امنیت سلاکار نو داسې څوک دی چې ډېره تجربه لري.
دولت: تر ده زه ډېره تجربه لرم.
سېنها: ... خو د ده کړنلاره بدله ده. د دغه بدلون لامل د ده تجربه بولئ او که نړۍ لید یې؟
دورانی: ښې خبرې ته مو اشاره وکړه. خلک تجربه لري، خو دا تجربه پر دوی څنګه اغېز کوي؟
مثلاً که د فلسطین خبره وکړو، نو د پاکستانیانو، عربي نړۍ او بلکې ټولو مسلمانانو غبرګون یو ډول دی. خو بیا هم زموږ د ټولو عقیده دا نه ده چې ګوندې د کافرانو په ورمېږونو پسې دې توري را وباسو.
ځکه نو د پاکستان په تړاو ستاسې تجربه ښایي بل ډول وي. پر اجیت ډوال ښایي د پاکستان په تړاو تجربې اغېز دا وي چې دی انګېري او وایي به چې «دغه هېواد ته باید پر اوسپنیز سوک ځواب ورکړل شي.» او ښاغلي دولت په کشمیر کې تر کار کولو وروسته بېخي بله کړنلاره موندلې وي.
سېنها: جنرال صېب، په ۲۰۱٦م کې چې یوې ډلې پخوانیو جګپوړو استازو په ډیلي کې سره وکتل، هغه کیسه څنګه شوه؟
دورانی: شپږ پخواني جګپوړي استازي «اسپېن مرکز»،ور بللي و، « Sati Lambah » یې اصلي محرک و. د دوی له انده په زړه پورې ناسته یې همدغه وه چې د ملي امنیت سلاکار ورته رابلل شوی و. اجیت ډوال ورسره په سړه سینه بحث کړی و، ورته ویلي یې وو: «موږ تاسې څارو، که زموږ د پلټنو پایلې ښې را و نه‌وځي او موږ د پټانکوټ او ممبیي او د پاکستان د رسمي ادارو ترمنځ تړاو ومومو، نو پایلو ته یې بیا ځانونه تېنګ کړئ.»
غونډه چې ختمه شوه، ده له هغې ډلې سره چې په دواړو هېوادونو کې ورته په ډېره درنه سترګه کتل کېږي، آن لا سترې مشي و نه‌کړه. بس په خپله مخه لاړ. خلکو د ده پیغام ترلاسه کړ.
دولت: ښاغلیه، دا کیسه به تاسې ته د غونډې یو ګډونوال کړې وي. ما چې په ډیلي کې څه واورېدل، ستاسو له خبرې سره ځمکه او آسمان توپیر لري؛ استازي د ده نرم چلند ته ګوته په غاښ پاتې وو، که څه هم ډوال پر جدي چلن مشهور دی.
دورانی: هو ده په نرمه ژبه خپل دا پیغام ورساوه چې هند ښې اړیکې نه غواړي، کور مو ودان چې راغلاست.
دولت: هو، که دغسې یو څه یې ویلي وي، بیا نو سمه ده. دا ښکاره ده چې په پاکستان کې دغسې له وړاندې موجود افکار شته دي، ممکن د اجیت ډوال اړوند هم وي.
دورانی: زه له وړاندې د موجودو افکارو خبره نه کوم، د غونډې د ګډونوالو خبره درته کوم.
سېنها: تاسو وویل چې د ده نوم په پټو مذاکراتو کې و، بیا څه وشول؟
دولت: د ده په تړاو لیکل شویو خبرو له امله دی په هره ناسته کې مطرح وي. په هر ځای د ډوال سیوری غوړېدلی وي. نه پوهېږم چې دا خبره به څومره سمه وي. له هغې راهیسې چې د ملي امنیت سلاکار شوی دی، زه له ده سره بېخي لږ مخ شوی یم. **دوام لري...**

# ګونتر ویلهېلم

شفیق امیرزی



ګونتر ویلهېلم ګراس د ۱۹۲۷ کال د اکتوبر په شپاړسمه په المان کې زیږېدلی دی. هغه الماني نقاش، مجسمه جوړونکی او لیکوال و. دی د المان د ۴۷ پیاوړو او مشهورو لیکوالانو له ډلې دی. ګونتر ګراس د هغه الماني نسل غړ و چې د نازیانو د واکمنۍ پر مهال یې ژوند کړی و. دی نه یوازې دا چې یو پیاوړی لیکوال و، بلکې د المان په ټولو سیاسي جریانونو کې یې د یوه پیاوړي او اغېزناک کس په توګه رول لوبولی دی. په ۱۹۹۹ کال کې د ادبیاتو په برخه کې د نوبل جایزه ورکړل شوه او د هغه د اثارو ستاینه وشوه. د نوبل بنسټ د جایزې د ورکړې پر مهال وویل چې دی د تاریخ د هېرې شوې څېرې روایتګر دی او هغه څه یې انځور کړي چې د انسانانو له ذهنه وتلي وو.
ګونتر ګراس په ماشومتوب کې سخت ژوند درلود. مخکې مو یادونه وکړه چې د نازیانو د واکمنۍ پر مهال یې ژوند کاوه. دا داسې مهال و چې په المان کې ډېری کورنیو د ژوند سختې شېبې تېرولې. کونترګراس هم په همداسې سختو شرایطو کې ژوند کاوه. هغه پنځلس کلن و چې د کورنۍ سخت اقتصادي وضعیت د هټلر په پوځ کې کار کولو ته اړ ایست. هغه د هټلر له پوځ سره یو ځای شوی و او په اوولس کلنۍ کې د فروندبرګ اس اس لس توپخانې ته ور وبلل شو او دلته یې خپلو چارو ته ادامه ورکړه. هغه همدلته په پوځ کې دنده تر سره کوله تر دې چې د ۱۹۴۵ کال د اپرېل په ۲۰مه ټپي کېږي او وروسته د همدې کال د مې په اتمه په ماریانسکه کې نیول کېږي او د امریکایي ځواکونو له لورې بندي کېږي.
ګراس د امریکایي سرتېرو په لومړنیو څېړنو کې دا ومنله چې د نازي ګوند په اس اس څانګه کې و. د همدې برخې غړیتوب یې درلود، خو تر ۲۰۰٦ کال پورې یې بیا دا خبره له خپلو مینه‌والو او لوستونکو پټه کړې وه. هغه له ۱۹۴۷ تر ۱۹۴۸ کال پورې په دوسلدورف کې د ډبر تورنې په یوه کارځای کې د روزنې دوې دورې بشپړې کړې. وروسته یې د دوسلدورف د هنرونو په اکاډمۍ کې زده کړې پیل کړې او د ډبر تورنې برخه یې بشپړه کړه. له دې ځایه چې فارغ شو بیا له ۱۹۵۳ تر ۱۹۵٦ کال پورې د برلین د تجسمي هنرونو په پوهنځي کې پر زده کړو بوخت و. له زده کړو تر فارغېدو وروسته پاریس ته لاړ او تر ۱۹۵۹ کال پورې دلته مېشت و.
ګونتر ګراس نه یوازې یو مهم لیکوال و، بلکې د المان لپاره هغه یو ستر ویاړ بلل کېده. د دغه هېواد د فرهنګ په ساتنه او پیاوړتیا کې یې د پام وړ کارونه کړي دي او تر ډېره یې د الماني فرهنګ پر ساتلو او پاللو ټینګار کاوه.
د ګراس مخالفین بیا هغه سرکشه او نارامه روښنفکر بولي. دوی وایي چې ګراس تل یوازې نیوکې کړې دي او په ټولنیزو نیمګړتیاوو یې ملنډې وهلې دي؛ خو ستاینوکي او مینه‌وال یې بیا وایي چې هغه یو ستر اصلاح کوونکی و او غوښتل یې په ټولنه کې عبثیات او بې مانا دودونه له منځه یوسي. هغه په خپلو لیکنو کې داسې یو سبک درلود چې تر ډېره به یې لوستونکي ته وعظ او نصیحت کاوه، خو د اصلاح دا بڼه نن هم دومره مشتري نه لري، ځکه هېڅ لوستونکی نه غواړي چې لیکوال دې په خپلو اثارو کې په مستقیمه توګه نصیحت ورته وکړي او نه هم دا کار اغېز لرلی شي. په ادبي ځمکه نصیحت په لفافه او هنري صنایعو کې تر سره کېږي نه د سیاسي لیکنو په څېر چې مستقیم هر څه باید عملي کړي او هر څه در رسوي. له دې ټولو سره سره د ګراس دوست او دښمن په دې باور دي چې هغه یو له تر ټولو خلاق الماني لیکوال دی. دوی وایي چې معاصرې ټولنې د ده په اثارو کې خپلې نیمګړتیاوې او ورتیاوې له ورایه ولیدلې.
ګونتر ګراس تل په ټولنه کې له خپل ټولنیز موقعیت خبر و. دی په دې باور و چې لیکوالي یې په برخلیک کې اخښل شوې وه او له دې مسلک سره یو ځای دې نړۍ ته راغلی دی. د ده په خبره، لیکوال هغه څوک دی چې د وخت د تېرېدو پر وړاندې یو څه لیکي. لیکوال ځان له وخت او زمانې نه شي بېلولی. دی باید داسې څه ولیکي چې هر وخت خلکو ته معاصر وبرېښي. د هر نسل د خلکو خوښ شي او لیکوال تلپاتې شي. دی باید د وخت او حالاتو بدلون ته متوجه وي، له پېښو سره باید ځان ګډ کړي او د ځینو مسایلو پر وړاندې باید دریځ ونیسي او پر وړاندې یې ودرېږي. لیکوال دا ادعا کولی شي چې تر خپل مخکې یا وروسته دې نړۍ ته راغلی دی. دی کولی شي د راتلونکې په اړه او یا د تېر په اړه څه ولیکي. دی وایي، د لیکوال په اړه یوه بله خبره دا ده چې هغه په خپل زړه لیکل نه کوي، بلکې موضوع ورته پیدا کېږي او لیکوال دې ته مجبوروي چې ویې لیکي. د ده په خبره، د انتخاب ازادي یې نه لرله، وایي که په خپل هوا هوس پسې به روان شو، نو د لیکوالۍ د فن او هنر مرګ به ورته ښکاره شو، که همداسې تللی وی، نو لیکوالي به ورته په زړه پورې وه، خو پېښو او حالاتو دې ته نه پرېښوده چې په خپل زړه لیکل وکړي او خپله لاره ووهي.
ګونتر ګراس په خپلو ډېری اثارو کې د المان د معاصرې ټولنې د اړیکو او حالت په اړه ځینې نقدي نظریې لري. دی په خپل ژور لید او تر یوې کچې له شک او ګومان ډک د الماني ټولنې نیمګړتیاوو ته متوجه شو. هغه وپتېیله چې د مادي پرمختګ په دې هسکو او تیټو کې د معنوي پرمختګونو اړخ ورو ورو کمزوری کېږي او د ښارونو د رڼا څراغونو تر سیوري لاندې انساني وحشتونه او بې باورۍ مخ پر پیاوړتیا او ډېرېدو دي.
ګوتر ګراس له ځوانۍ له سوسیال ولسواکۍ سره یو ځای شو او تل به یې د دغه ګوند له چپ اړخ ملاتړ کاوه. په ۱۹٦۰ بیا تر ۱۹۷۰ کال کې په المان کې یو نوی نسل راغی چې هغه په المان کې له دودیزو حکومتي جوړښتونو سره مخالف و او له دې مفکورو سره یې د جنګ غږ پورته کړ. د دې ډلې ځوانانو لپاره ګوتر ګراس یوه مهمه معنوي سرچینه وه. دوی د ده له خبرو او مفکورو الهام اخیست او د خپل ځان پر وړاندې یې له رسنیو نیولې بیا د حکومت تر چارواکو پورې مخالفتونه را ولاړ کړل. له ګراس سره هم دښمني او مخالفتونه دومره ډېر شول چې له سپکو سپورو نیولې ان تر ښکنځلو او رټلو یې سرحت ورسېد. ګونتر ګراس په خپل هر اثر د زورواکانو او واکمنانو او همدا راز د دوی د ملاتړو او وياندويانو پر وړاندې نوې جبهه جوړوله. د ده ځینو مخالفینو او منتقدانو دا نظر ورکړ چې له سیاسي کشمکشونو سره مل لیکوال هېڅ وخت خلاق پاتې کېدی نه شي او د دوی په باور له ګراس باید نور د ښې لیکوالۍ تمه ونه شي.
د ۱۹۸۰ کال په لومړیو کې ښي پالو نقادانو کونتر ګراس ته د داسې لیکوال په سترګه کتل چې هغه د لیکلو او تخلیق لپاره پوره وړتیا نه لري. دوی په دې باور و چې ګراس خپل استعداد د سیاسي دریځونو د خپلولو له امله بایللی دی او په ذهن کې یې د ادبیاتو پر ځای سیاسي مسایل ځای پر ځای شوي دي.
ګونتر ګراس ان تر ۱۹۹۰یمو کلونو پورې د مخالفینو له بې رحمانه لفظي بریدونو او نیوکو سره مخ و. د هغه نوي اثار له کم هرکلي سره مخ کېدل، دی هم د دې پر ځای چې ادبي سبک، فکر، ادبي تخلیقونو او نورو مسایلو ته فکر وکړي، مخالفتونو ته پر ځواب ویلو بوخت وو. ده سیاسي او ټولنیزو ستونزو ته کتنه کوله او نیوکې یې ورباندې کولې. وروسته وروسته یې څو مهم اثار بازار ته راغلل چې د مخالفینو خبرې یې رد کړې او دا یې ثابته کړه چې هغه یو تخلیقي پیاوړی لیکوال دی، ادبي ذوق لري او د لوړ استعداد خاوند دی. ده وویل، دا سمه ده چې د ورځنیو ستونزو او مسایلو پر لیکلو اخته دی، خو په خبره یې یو ښه لیکوال نه شي کولی چې پر ورځنیو چارو او ستونزو سترګې پټې کړي. هغه په دې باور و چې وخت، حالات او ټولنه پر انسان اغېز کوي او دی یې باید پر وړاندې مقاومت وکړي.
ګونتر ګراس په ۱۹۵۹ کال کې د ډول یا په درې کې طبل ناول خپور کړ. په الماني د دې کتاب نوم (Die Blechtrommel) دی. دی د همدې ناول تر چاپ وروسته د الماني لوستونکو ترمنځ مشهور شوی و. ده په یوه ځانګړې او حیرانوونکي سبک په دې کتاب کې خپل ژوند لوستونکي ته پرانیست. زړه راښکونکې صحنې یې انځور کړې دي، په زړه پورې کرکټرونه لري او د څو نسلونو په اړه یې تاریخي مسایل رانغښتي دي. دغه ناول په حقیقت کې له شخصي زاویې د الماني ټولنې یو روایت دی، خو تر شا یې یو پیاوړی تاریخ او سیاسي دریځ پروت دی چې له هرې کرښې ملاتړ کوي او هره کرښه پیاوړې کوي.
په ۱۹۹۹ کال کې د نوبل بنسټ پرېکړه وکړه چې د همدې کال د ادبیاتو په برخه کې د نوبل جایزه ګراس ته ورکړي. په همدې کلونو کې د ګراس له اثارو په نړیواله کچه هرکلی مخ پر زیاتېدو و. د همدې ملاتړ او هرکلي اغېز و چې په ګراس کې د تخلیق او اثارو د پنځونې قوه بیا پیاوړې شوه. دا اهمیت او ملاتړ هغه وخت لا پیاوړی شو چې د نوبل بنسټ ګراس د نوبل جایزې ګټونکی وباله.
د نوبل بنسټ په خپل لیک کې ویلي وو چې ګراس په تورو او تیاره رنګونو کې د تاریخ داسې مسایل راوړي چې باید د بشریت هیر نه شي. ده د المان په ادبیاتو کې یوه نوې لار رامنځ ته کړه او پر هغه لار روان نه شو چې له کلونو راهیسې روانه وه او پای یې په ورانۍ او ویجاړۍ و. دغه بنسټ ویلي وو چې له توماس مان را وروسته په المان کې بل هېڅ لیکوال دومره نړیوال نفوذ نه دی لرلی لکه کونترګراس چې لرلی دی.
ګراس تل هڅه کړې چې په اثارو کې یې د بشري ژوند پر کړو او نیمګړتیاوو ګوته کېږدي او هغه نړیوالو ته رابرسېره کړي. دی په دې باور هم و چې نړۍ یوازې د ادبیاتو له لارې نه شو اصلاح کولی؛ خو په دې هم باور لري چې ادبیات پر انساني ټولنو او انساني فکر له اغېزې خالي نه دي او باید د ټولنو په اصلاح کې کار ترې واخیستل شي. ګراس نه یوازې په کیسه لیکلو؛ بلکې د مجسمې په جوړولو کې هم لوی لاس درلود او ډېر اثار یې جوړ کړي دي. هغه د شعرونو څو کتابونه هم لري او ننداري یې هم لیکلې دي. لسګونه لنډې کیسې یې په بېلو مجلو او نشریو کې چاپ شوې دي؛ خو تر ټولو مهم او اساسي کار یې د ناولونو لیکل دي. ګراس په ۲۰۰٦ کال کې خپل ژوندلیک لیکلی دی او په هغه کې یې له مهمو مسایلو پرده پورته کړې ده. بالاخره د المان دغه پیاوړی او نامتو لیکوال د ۸۷ کلونو په عمر په ۲۰۱۵ کال کې ومړ. المان د دغه لیکوال مړینه ستره فرهنګي ضایعه بللې وه او د دغه هېواد حکومت ویلي وو چې هغه په نړیواله کچه د المان په ادبي او فرهنګي شهرت کې مهم رول لوبولی دی.

## همیانی

# څنگه خپل ځان وپېژنو؟

ژباړه: حامد احمدزی

تر اوسه مو دې ته فکر کړی، چې څه ډول خپل ځان وپېژنو او د خپل ځان پېژندنه کوم خوندونه لري؟ د دې لپاره چې خپل ځان وپېژنی، باید لاندې اووه عادتونه چې د خپل ځان په پېژندنه کې مهم رول لري، تر نورو ښه وپېژنئ. د دغو اوو عادتونو پېژندل او پرې عمل کول، له تاسې سره دا مرسته کوي څو خپل هدف ته په اسانۍ سره ځان ورسوی او خوښ ژوند ولری.

د خپل ځان، شخصیت او مزاج پېژندل د ځان پیژندنې په لاره کې لومړی او مهم گام دی. په دې لیکنه کې چې سقراط هغه د ځان پېژندنې په اړه معرفي کړې دي، درپېژنو، څو پوښتنه دلته ده چې څه وخت پوه شو چې خپل ځان مو پېژندلی دی؟ د دې پوښتنو ځواب په دې لیکنه کې لوستی شی او دې همدې ټکو په عملي کولو سره په خپل ژوند کې مثبت بدلون رامنځ ته کولی شی.

١ـ خوښ اوسېدل

کله چې تاسو د دې توان لرئ چې ځان هغسې وښیئ چې تاسې يې غواړی، هغه ده چې تاسې به د خوشالۍ احساس وکړی. د ځان پیژندل په دې مانا چې د خپلو خوبونو رښتیني کولو پر لور گام پورته کړئ. هرڅومره چې تاسو خپل ځان ښه وپیژنئ، هومره به مو خوبونه پر حقیقت بدل شي. دا طبیعي ده چې هر انسان پټې او ښکاره غوښتنې لري او هر یو په یو ډول نه یو ډول هغه ته رسېدل غواړي؛ خو دا هیله هغه وخت پر حقیقت بدلېږي، چې موږ تر هرڅه مخکې خپل ځان په ښه ډول وپېژنو، چې موږ څوک یو؟ څه غواړو؟ چېرې ژوند کوو؟ زموږ اوسنې امکانات څه دي او موږ چېرته رسېدل غواړو؟ که مو دا کار وکړ(یانې ځان مو په ښه ډول وپېژانده) باوري اوسئ چې ۹۰ سلنه خپلې موخې ته نږدې شوي یاستی.

٢ ـ داخلي ننگونې

کله چې ستاسو بهرنی عکس العمل ستاسو له احساساتو، ارزښتونو او باورونو سره مطابقت وکړي، نو له کمو ننگونو سره به مخ شی. کوښښ وکړئ چې هغسې خپل ځان جوړ کړئ او هغسې عمل وکړئ څنگه یې چې ستاسې زړه غواړي. که زړه مو یو ډول عمل غواړي او تاسې بیا په ظاهر کې بل څه کوی، حتمي ده چې له خپل درون به سخت ځوربېږی او دا ځورېدنه به مو تر ډېر بد حالته ورسوي. کوښښ وکړئ چې د خپلې خوښې مطابق عمل وکړئ.

٣ ـ غوره پرېکړه کول

کله چې تاسو ځان ښه وپیژنئ، نو په ژوند کې به غوره انتخابونه ولرئ، له کوچنیو انتخابونو ان د ژوند د ملگري تر انتخاب پورې.

د ځان په پیژندلو سره به خپل کاري چوکاټ منظم کړی، چې دا له تاسو سره مرسته کوي څو د ژوند مهمې ستونزې حل کړئ. کوښښ وکړئ چې له امکاناتو او حالاتو سره مطابق پرېکړه وکړئ، که نه، ځینې ناسمې پرېکړې به مو ان د ژوند په بیه هم تمامې شي.

۴ـ د خپل ځان کنټرولول

کله چې خپل ځان وپېژنئ، کولی شئ هغه چلندونه وپېژنئ چې تاسو هڅوي او ستاسو ناوړه عادتونه کابو کوي او ښه عادتونه مو لا پیاوړي کوي. په حقیقت کې د ځان پېژندل د دې لامل کیږي، څو هغه ارزښتونه او اهداف چې پوهه درکوي، ستاسو اراده لا پیاوړې کړي.

۵ـ له ټولنیزو فشارونو سره مقاومت کول

کله چې په ژوند کې خپل ارزښتونه او لومړیتوبونه وټاکئ، تاسو به له ډېرو کمو ټولنیزو ستونزو سره مخ شی. پوهېږی دا ولې؟؟ دا ځکه چې له بده مرغه زموږ د ټولنې خلک یوازې په نورو پسې خبرو کولو ته وزگار دي او همدا یې له وسه کېږي، که خدای مه کړه بې لومړیتوبه کس درنه جوړ شو چې نه درته شپه مهمه وي او نه هم ورځ، بیا به د خلکو خولې ته ولوېږی او د خلکو انصاف خو بیا ښه درمالوم دی، چې د باد ښکه درنه جوړوي. ښه ده چې نه دې خلکو د خندا شی او نه هم په سختو کې ژوند وکړی، دا هرڅه ځان ته انتخابونه ټاکل کولی شي.


٦ـ زغم او د نورو درک کول

د خپل ځان د کمزورتیا او قوت ټکي پېژندل د دې لامل کیږي، چې په اسانه او ښه ډول له نورو سره همدردي وکړی. اورېدلي به مو وي، وایي نه د لوړې هدیرې جوړې شوې او نه هم چا خپل کور چا ته ور په شا کړی او هغه ته یې اچولی چې واخله دا یې ستا! ډېر غریب یې یا ډېر راباندې گران یې؛ خو ښه کس بیا هغه دی او خوشاله ژوند د هغه چا دی چې د خپل بار تر څنگ، د بل د اوږو بار هم لږ کم کړي. کوښښ وکړئ چې له نورو سره د مهربانۍ او همدردۍ له مخې ژوند وکړئ.

٧ـ د ژوند خوند

او د ځان ښه او پوره پیژندل د دې لامل کیږي چې د خوشالۍ احساس ولرو، له نورو سره ښه چلند وکړو او له خپل ژونده په پوره مانا خوند واخلو. زموږ ټولو لویه هیله دا ده چې بالاخره د هرڅه له تر سره کولو وروسته خوشالي تر لاسه کړو؛ خو ځینې وخت همدې موخې(خوشالۍ ته رسېدل) ته رسېدل مو د ناسمو لارو ښکار کوي، که غواړئ چې خوشاله ژوند وکړی، دا پورته اووه کارونه عملي کړئ.

## ملي امنیت شورا: د جگړې او تاوتریخوالي ډېرېدو د سولې خبرې له ستونزه سره مخ کړې



که څه هم د افغانستان حکومت د سولې د بین‌الافغاني مذاکرو د ځنډ او خنډ عامل طالبان بولي، خو طالبان وايي، د سولې خبرې لا هم په ټپه نه دي درېدلي.

د ملي امنیت شورا په افغانستان کې د روانو ناخوالو مسوولیت پر طالبانو اچولی او وايي، په هېواد کې د روانو بدمرغیو عاملان هغه کسان دي، چې اوربند نه کوي، جگړه یې روانه ساتلې او د سولې مذاکرو ته خنډ جوړوي.

حکومت وايي، دغه خبرې د طالبانو د نه لېوالتیا له کبله له خنډ او ځنډ سره مخ شوي، خو طالبان بیا وايي، په مذاکراتو کې ځنډ راتلل عادي خبره ده.

د ملي امنیت شورا ویاند رحمت‌الله اندړ زیاتوی، هغه کسان چې اوربند نه کوي، جگړه روانه ساتي او بین‌الافغاني مذاکرو ته خنډ او ځنډ جوړوي د روانو ناخوالو مسوول دي. نوموړی وايي: «د سولې پروسه قطع شوې نه ده، زموږ پلاوی په قطر کې دی. طالبان په سفرونو سر دي. حکومت او د افغانستان ملت له اوربنده رانیولې تر بل هر انعطاف پورې خپل صداقت ښودلی او بیا هم ژمنتیا شته، څوک چې اوربند نه کوي، جنگ جاري ساتي او په دې برسېره، د بین‌الافغاني مذاکرې د ځنډ او خنډ لامل گرځي، طبیعي ده چې د دې بدبختۍ مسوولیت ور په غاړه دی.»

په ورته مهال د عامه او ستراتېژیکو اړیکو په چارو کې د جمهوري ریاست سلاکار او رییس وحید عمر هم ورمه ورځ په کابل کې یوه کنفرانس ته وویل: «طالبانو تر اوسه داسې کوم اقدام نه دی کړی چې سولې ته د دوی ژمنتیا ثابته کړي.»

وحید عمر ویلي، چې د سولې لپاره د ښه نیت ښودلو لپاره لومړی گام په افغانستان کې اوربند ته غاړه اېښودل دي. طالبانو چې تر اوسه یې اورکم یا هم اوربند ته لېوالتیا نه‌ده ښودلې، یوه پلاوي یې ایران او بل پلاوي یې روسیې ته سفر کړی دی.

بلخوا د طالبانو د سیاسي دفتر ویاند محمد نعیم ویلي، د طالبانو د سیاسي دفتر د مشر ملا عبدالغني برادر په مشرۍ د دوی پلاوی ورمه ورځ په تهران کې د ایران د بهرنیو چارو له وزیر محمد جواد ظریف سره د افغانستان پر وضعیت، سولې مذاکرو او د دوحې د موافقې د بشپړ عملي کېدلو په اړه خبرې وکړې.

## طالبان: که امریکا په ټاکلي وخت خپل ځواکونه ونه وباسي، پر وړاندې به یې اقدام وکړو



طالبانو د یوې اعلامیې په خپرولو سره په کابل کې د یو شمېر هېوادونو د سیاسي استازولیو هغې خبرپاڼې ته غبرگون ښودلی، چې په هېواد کې یې د روانو هدفي بریدونو او عامه تاسیساتو د ورانولو پړه پر طالبانو اچولې وه.

طالبانو په هدفي بریدونو او د عامه ځایونو په ورانولو کې لاس لرل رد کړي او ویلي یې دي چې دغه ډله د عامه ځایونو د تخریب مخنیوی خپله دنده بولي. طالبانو زیاته کړې، چې د دوی پالیسي د خبرو له لارې د افغانستان کړکېچ ته د حل لاره موندل دي.

طالبانو دغه راز اروپایي ټولنه او یو شمېر نور هېوادونه د افغانستان په جگړه کې دخیل بللي او زیاته کړې یې ده، چې دا هېوادونه اوس هم هڅه کوي چې په بېلا بېلو پلمو په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو حضور او د جگړو دوام ته لار هواره کړي.

دا په داسې حال کې ده چې رویټرز خبري اژانس په دې وروستیو کې د ناټو د څلورو مسوولینو له قوله ویلي وو، چې نړیوال ځواکونه به د دوحې په هوکړه کې د ټاکل شوې مودې تر پوره کېدو وروسته هم په افغانستان کې پاتې شي. طالبانو د همدې موضوع او د دوحې هوکړې د نقض په تړاو امریکا ته خبرداری ورکړی دی او ویلي یې دي چې که امریکا په افغانستان کې د خپلو ځواکونو د حضور لپاره پلمې لټوي، نو دوی به هم په پوره شجاعت د خپلې خاورې، ارزښتونو او خلکو دفاع ته دوام ورکړي.

د طالبانو دا خبرداری داسې مهال دی چې واک ته د جو بایډن له رسېدو سره سم، د افغان جگړې د پای ته رسېدو په تړاو د ټرمپ د ادارې او طالبانو ترمنځ د سولې هوکړه له نامالوم برخلیک سره مخ شوې ده. د امریکا د ملي امنیت سلاکار او د یاد هېواد د بهرنیو چارو وزیر په دې وروستیو کې ویلي چې نوی حکومت به دا هوکړه له سره و ارزوي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ٧٧,٢ |
| € | ٩٣,٥ |
| Rp. | ٤٧٩ |
| ₹ | ١٠٥٥ |
| ¥ | ١١ |
| £ | ١٠٤,٨ |

### بیړنی شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسیر ورځپانه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري

**گرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایگل چاپ ٠٢٠٢٥١٢٦٢٦
٠٧٨٢٩٨٩٦٩٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL
PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

سه شنبه د ۱۳۹۹ د سلواغې ۱۴مه | د ۲۰۲۱ د فبروري دویمه | ۶۷۴مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۲ | ۱۷ | ۲۰ | ۱۷ | ۲۱ | ۱۴ |
| ۰ | ۰ | ۱ | ۹ | ۷ | ۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۲۶ | لمر ختل ۰۶:۵۱ | ماسپښین ۱۲:۰۸ | مازیګر ۰۳:۴۵ | ماښام ۰۵:۲۴ | ماخوستن ۰۶:۵۰

## نړۍ




## تازه شمېرې: په نړۍ کې پر کرونا د اخته کسانو شمېر له ۱۰۳ میلیونو واوښت



د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۱۰۳ میلیونه او ۶۰۲ زره او ۸۵۴ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله دوه میلیونه او ۲۳۹ زره او ۴۰۸ کسان مړه شوي او له ۷۵ میلیونو ډېر ترې بېرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۲۶ میلیونه او ۷۶۷ زره او ۲۲۹ ته رسېدلي او ۴۵۲ زره او ۲۷۹ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.

دغه راز هند د ۱۰ میلیونه او ۷۵۸ زره او ۶۱۹ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د نهه میلیونه او ۲۰۴ زره او ۷۳۱ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ دریم، روسیه د درې میلیونه او ۸۶۸زره او ۸۷ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او بریتانیا د درې میلیونه او ۸۱۷ زره او ۱۷۶ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.

فرانسه، هسپانیا، ایټالیا، ترکیه او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## مسکو: په روسیه کې له روانو لاریونونو د امریکا ملاتړ به وضعیت نور هم ترینګلی کړي

په روسیه کې د لاریونونو له پراخېدو سره هممهاله، د دغه هېواد چارواکو امریکا ته خبرداری ورکړی، چې د دوی په کورنیو چارو کې دې لاسوهنه پای ته ورسوي. دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې د روسیې د حکومت له خوا د یوه مخالف مشر الکسي ناوالني له نیول کېدو وروسته، په دغه هېواد کې پراخ لاریونونه پیل شوي دي. د راپورونو له مخې، د ورمه ورځ د روسیې پر پلازمېنې مسکو سربېره، په نورو ښارونو او سیمو کې پراخ لاریونونه روان وو چې نږدې پنځه زره کسان یې د پولیسو له خوا نیول شوي هم دي. په ورته مهال د روسیې د بهرنیو چارو وزارت امریکا د روسیې په کورنیو چارو کې پر لاسوهنې تورنه کړې او خبرداری یې ورکړی چې د امریکا دا ډول پاروونکي اقدامات به وضعیت نور هم ترینګلی کړي.

د روسیې پولیسو د هغو لاریونوالو پر وړاندې په شدت سره ځواک وکاراوه چې ورمه ورځ د اپوزېسیون د زنداني شوي سیاستوال او د اداري فساد ضد فعال الکسي ناوالني د خوشې کېدو لپاره لارو سړکونو ته راوتلي وو.

په ټولنیزو رسنیو کې له خپرو شویو ویډیوګانو او عکسونو ښکاري چې پولیس ځیني مظاهره‌چیان په ډنډو ډبوي او ځیني نور له ځان سره بیایي.

## برشنا شرکت: تا پایان سال ۱۴۰۰ میلادی مشکل برق شهر کابل حل می کنیم




برشنا شرکت می گوید که تلاش می کند تا پایان سال ۱۴۰۰ میلادی مشکل برق شهر کابل را حل کند.

صفی‌الله احمدزی معاون این شرکت دیروز در برنامه حساب‌دهی دولت به ملت گفت ۵۰۰ میگاوات برق ترکمنستان به مزار شریف رسیده و با وصل آن از راه پلخمری به کابل، برق شهر کابل ۲۴ ساعته می‌شود.


آقای احمدزی افزود: «برشنا شرکت در صدد این است و همیشه تلاش هم به این ورزیده که چه نوع بتوانیم برق را در شهر کابل و در تمام ولایات افغانستان بیشتر بسازیم، کار جریان دارد احداث خط ۵۰۰ کیلوولت ترکمنستان الی مزار تکمیل شده. ما امیدواریم که یک کمیته هم ایجاد شده که از پلخمری الی کابل بعضی معضل‌هایی در پروژه لین انتقالی وجود دارد که این را حل کنیم.»

به گفته مسئولان شرکت برشنا افغانستان برای خودکفایی در بخش برق به ۴ میلیارد دالر نیاز دارد، اما در کنار کمبود امکانات مالی، ناامنی‌ها نیز این کار را پرچالش کرده‌است.

به گفته ننگیالی میاخیل معاون فنی برشنا شرکت تنها در یک سال گذشته به دلیل‌های مختلف ۵۰ بار خطوط انتقال برق قطع شده‌است. به گفته مسئولان این شرکت حالا ۸۰ درصد برق افغانستان وارداتی است و ۲۰ درصد آن در داخل کشور تولید می‌شود که از این راه ۴۵ درصد شهروندان کشور از خدمات برق مستفید می‌شوند.

## ژونـــد


### سامسُنګ تر ټولو ارزان بیه ځیرک موبایل معرفي کړ



سامسُنګ کمپنۍ خپل تر ټولو ارزان بیه ګلکسي ځیرک موبایل معرفي کړ. دغه ځیرک موبایل ګلکسي اې۰۲ نومول شوی دی. دغه ځیرک موبایل به تر ټولو وړاندې تایلینډ کې خرڅلاو ته وړاندې شي. ګلکسي اې۰۲ کې ۶،۵ انچه ایچ ډي ایل سي ډي ډوله مخپاڼه ورکړل شوې ده. شاتنۍ برخه کې دوې کامرې لري چې ۱۳ مېګاپکسله اصلي کامره او ۲ مېګاپکسله مکرو کامرې هم پکې شاملي دي. مخکینۍ برخه کې یوه ۵ مېګاپکسله وړتیا لرونکې سېلفي کامره لري. دغه ځیرک موبایل کې د مېډیاټېک کمپنۍ ایم ټي۶۷۳۹ ډبلیو ډوله پروسېسر، ۳ ګیګابایټه رم او ۳۲ ګیګابایټه د فایل ثبتونې وړتیا ورکړل شوې چې له میموري کارت څخه هم ملاتړ کوي. ګلکسي اې۰۲ کې ۵۰۰۰ ملي امپیره پیاوړې بېټرۍ ورکړل شوې ده. د دغه ځیرک موبایل بیه ۲۹۹۹ تایلینډي باټ (تقریباً ۸۰۰۰ افغانۍ) ټاکل شوې ده او ډېر ژر به نورو هېوادونو کې هم خرڅلاو ته وړاندې شي.

### د حقارت عقده څه شی ده؟

د رواني او شخصیتي انحرافاتو یوازینی او اساسي عامل د «حقارت عقده» او یا هم ځان ته په ټیټه سترګه کتل دي. د حقارت عقده داسې تعریف شوې ده: د حقارت عقده له ناکامۍ، په پټ زړه د غمونو تېرولو، په یوه کار کې د ناکامۍ او ستړیا څخه رامنځ ته کېږي. «د کمترۍ احساس» لکه د نوم له دویمې برخې څخه یې چې څرګندېږي، یانې دا چې حس کړي د نورو پر وړاندې ځان درته کوچنی او بې ارزښته ښکاره شي. د انسان د روان او شخصیت د انحرافاتو یو اساسي عامل، «د حقارت عقده» یا ځان ته په ټیټه سترګه کتل دي. البته لکه څنګه یې چې له نوم ښکاري، دغه «ځان ته په کمه کتل» له



واقعیت سره چندان اړیکه نه لري، بلکې تر ډېره د ځان په اړه خپله د شخص ذهنیت او باور دی. «د حقارت عقده» کوم فطري ځرنګوالی نه لري او نه هم په کومه طبقه یا قشر پورې اړوندېږي، بلکې عارضي شی دی چې د پیدا کېدو علت یې باید د شخص په لومړنۍ روزنه او هغو اړیکو کې وڅېړل شي چې یاد کس له ماشومتوبه تر بلوغ پورې له چاپېریال سره درلودلې دي.




د زده کونکو/زده کړیالانو جاري حساب

عزیزي بانک خوښ دی چې خپل ځانګړی محصول "د زده کونکو جاري حساب" په لاره اچولی چې د افغانستان د زده کونکو لپاره ځانګړې ډالۍ ګڼل کېږي. نوموړی حساب زده کونکو/زده کړیالانو ته د وړیا ای ټي ام کارت او په کلنۍ فیس کې د ماستر ډبټ کارت تخفیف سره چمتو شوی دی.

www.azizibank.af 1515

عزیزي بانک
Azizi Bank